CROIX-ROUGE FRANÇAISE

RETABLISSEMENT DES LIENS FAMILIAUX



# د کورنۍ یوځای کولو

## کړنلاره

Cofinancé par l'Union européenne

IFRC

# د کورنۍ
# یوځای کولو
کړنلاره




دا کتابچه په فرانسه کې د قبول شوي کس او بهر کې د کورنۍ دواړو لپاره ده، چې هر یو یې په پروسه کې دندې لري.

# د کورنۍ یوځای کېدل څه دي؟

**← زه کولی شم دغه اقدام وکړم؟**

که د کډوال، فرعي ساتنې یا بېوطنه کس په توګه منل شوي یاست، کولی شئ د کورنۍ بیا یوځای کولو پروسه پیل کړئ.

**← کله د کورنۍ بیا یوځای کولو پروسه پیلولی شم؟**

تاسي د OFPRA ( دبېوطنه وګړو د ساتنې فرانسوی اداري) یا CNDA (د کډوالی حق د ملي محکمې) لخوا تر منل کېدو سمدستي وروسته کولی شئ د کورنۍ یوځای کولو پروسه پیل کړئ.

**دا زمینه مساعدوي، چې ستاسی د کورنۍ غړي ستاسي سره په فرانسه کې د یو ځای کېدو لپاره د اوږدمهالي ویزې غوښتنلیک وسپاري.**

**که تاسي یو بالغ کس یاست،** کولی شئ د ژوند شریک او کمعمره او ناواده شوي ماشومان مو راولئ (تر ۱۹ کاله کمعمره).

**که نابالغ یاست،** کولی شئ خپل والدین او د هغوی کمعمره ماشومان راولئ.

→

## پاملرنه

د ځینو استثناوو سره، که داسي نابالغ کس و اوسم، چې والدین مې مړه شوي یا نادرکه شوي وي، نشم کولی خپل کمعمره ورونه او خویندي راولم.

**← که هغه مهال چې نابالغ (ه) وم د OFPRA یا CNDA لخوا مې قبولي تر لاسه کړې وي او اوس بالغ (ه) یم، کولی شم د کورنی یوځای کولو کړنلاره وکاروم؟**

هو، مهمه دا ده چې تاسې په نابالغ عمر کې د پناه غوښتنه کړې وه.

**← د کورنی یووالي او کورنی بیا یوځای کېدو ترمنځ توپیر څه دی؟**

د کورنی بیا راټولو پروسه د هغو خلکو اړوند ده، چې له پناه‌غوښتنې پرته د نورو دلایلو له مخې په فرانسه کې د لږ تر لږه ۱۸ میاشتو راهیسې استوګن وي او د خپلو کورنیو د هرکلي لپاره لازمي مادي سرچینې ولرې (تخوا، استوګنځای، نور.).


## پاملرنه

که تاسي له OFPRA یا CNDA څخه د قبولی تر لاسه کولو وروسته واده کړی وي، د کورنی یو ځای کولو کړنلارې څخه نشئ برخمن کیدی. په دې صورت کې د کورنی بیا راټولو پروسه پیلولی شئ.

# لنډیز او عمده پړاوونه


**.1**

زه مې د ویزې دوسیه بشپړوم
۷ پاڼه





۱ پړاو

 زه مې دوسیه بشپړوم
۸ پاڼه




۲ پړاو

د فرانسې ویزې انټرنټپاڼه
کې فورمه ډکوم
۱۰ پاڼه




۳ پړاو

د خپلې کورنۍ لپاره د فرانسې په سفارت کې
ملاقات اخلم
۱۲ پاڼه

→

## .2
## سفارت زما د ویزې درخواست
## طی مراحل کوي
۱۵ پاڼه



۴ پړاو

**د BFR فورمه ډکوم**
(د کډوالو کورنیو دفتر)
۱۶ پاڼه

۵ پړاو

**سفارت ته انتظار کوم، چې ځواب راکړي**
۱۷ پاڼه

## .3
## سفارت پریکړه کوي
۱۹ پاڼه



**سفارت مثبت ځواب راکوي**
۲۰ پاڼه



**سفارت ځواب نه راکوي**
۲۱ پاڼه



**سفارت منفي ځواب راکوي**
۲۲ پاڼه


DEMANDE DE VISA
PHOTO
NOM:
NOM DE NAISSANCE:
PRÉNOM(S):
SEXE:
M F
LIEU DE NA
NO DE DOCU
RÉSIDENC
PROFES
Partie réservée à l'administration

# .1

# زه مې خپله د ویزې دوسیه بشپړوم

زما کورنۍ باید د خپلې استوګنې په هیواد کې میشت د فرانسې سفارت ته د اوږدمهالې ویزې غوښتنلیک وسپاري.

**له کومه ځایه پیل وکړم؟**

# ۱ پړاو

## زه د ویزې غوښتنلیک دوسیه بشپړوم


**لازمه نه ده، چې دغه ټول سندونه باید ولرم خو هغه کوم چې ډېره برخه یې چمتو کړم.**

- ☑ زما د ژوند شریک د مړینې په صورت کې: د مړینې تصدیق.
- ☑ هر هغه سند چې کولی شي له کورنۍ سره زما اړیکه ثابته کړي (فامیلي عکسونه، په پیغامونو کې خبرې، ویډیو اړیکې، د پیسو لیږد، د رخصتیو ریکارډ، د ښوونځي تصدیقپاڼې...).
- ☑ د استوګنې په هیواد کې زما د کورنۍ د اړیکو شمېرې.

**بې‌سرپرسته ماشومان (MNA):**

- ☑ د نابالغ ګڼل کېدو د ارزونې کاپي (که چیرې د MNA د کورنۍ د نورو غړو یادونه کېږي).
- ☑ د OPP کاپي، د تعلیمي همکارۍ قضاوت‌پاڼه یا د سرپرستۍ پریکړه.
- ☑ د ماشومانو د سوسیال مرستې د ملاتړ تصدیق‌پاڼه (ASE).
- ☑ د ASE راجع کوونکي لخوا داسې لیک، چې له مخې یې دا واقعیت تثبیت شي چې د کورنۍ یووالی د MNA په ګټه دی.

**په بهرنیو ژبو سندونه باید له تصدیق شوي ژباړې سره وړاندې شي.**



## زه په فرانسه کې یم

**باید تمام اسناد ذیل را جمع آوری و آماده کنم:**

- ☑ د فرانسې د ویزې فورم (۱۰ پاڼه وګورئ).
- ☑ د ویزې مرکز یا سفارت ته بلنه.
- ☑ د کورنۍ د پېژندنې عکسونه.
- ☑ د خپلې اقامې یا رسید دوه طرفه کاپي (په استثنا د بې‌سرپرته نابالغه ماشومانو که چیرې چمتو نه وي).
- ☑ د OFPRA یا CNDA پریکړه.
- ☑ د زیږېدو کارت د OFPRA*
- ☑ فامیلي کتابچه OFPRA*
- ☑ نکاحخط OFPRA*
- ☑ زما د کورنۍ غړو پاسپورټونه، چې تر ۶ میاشتې ډېر وخت یې پاتې وي.
- ☑ د کورنۍ غړو د زیږېدو کارتونه.
- ☑ نکاحخط.
- ☑ د جلا کېدو په صورت کې: طلاق‌خط او/یاد کوچنیانو راوستلو لپاره د والدینو صلاحیتونو د ورکړې رسمي امر.

*که تر لاسه شوی وي.

→

### پاملرنه

**فرانسوي مقامات به زما لخوا په OFPRA کې د ورکړل شویو بیانونو همږغي او یووالی وپلټي (تخلصونه، نومونه، زما د کورنۍ د غړو د زوکړې نیټې او ځایونه، د ماشومانو تعداد، نور).**
**زه په مدني حالت کې د بدلونونو او اصلاحاتو په اړه د بریښنالیک له لارې OFPRA ته خبر ورکوم.**

زه باید د خپلو عزیزانو پېژندګلوي او له خپلې بهر میشتي کورنۍ سره د فامیلو اړیکو درلودلو ثبوت وړاندي کړم.

زه باید د یو تعداد سندونو نه شتون توجیه کړم. حالت ته په کتو، زما دوسیه ممکن نور داسې سندونه ولري، چې دلته نه دي ذکر شوي.




# زه بهر کې یم

### پاملرنه

**که له خپل اصلي هیواد دباندې کوم بل هیواد کې د فرانسې ویزې ته غوښتنلیک سپارم، باید هغه هیواد ته د ورتګ او ورځخه د تګ قانوني لارې چارې ولټوم.**



زه د امکان تر کچې سندونه چمتو کوم او **عکسونه یا کاپیانې** یې استوم خپل قریب ته چې فرانسه کې دی (زما پاسپورټ، د زیږېدو کارت، چمتو شوي عکسونه، نور).




**زه باید خپل سفر پلان کړم** (ترانسپورټ، استوګنځای، د ورتګ ویزې، که چیرې بل هیواد ته ځم، لګښتونه او داسې نور). دا ټول باید د فرانسې سفارت کې تر ملاقات وړاندي وکړم.



# ۲ پړاو

## زه باید د فرانسې د ویزې په انټرپاڼه کې د ویزې فورمه ډکه کړم



**← که کورنۍ مې پاسپورټ ونلري، باید څه وکړم؟**

زه د **یوه پاس** غوښتنه کوم. ددې کار لپاره خبر ورکوم
یوه خیالي (XXX000) پاسپورټ شمیره کاروم، څو د ویزې فورمه بشپړه کړای شم.

## زه په فرانسه کې یم

**زه د ویزې پاڼې ته ځم** France-Visas
د حساب تر پرانستلو وروسته د کورنۍ
د هر غړي لپاره یوه د ویزې فورمه ډکوم.

## پاملرنه

**په ځینو هیوادونو کې پاس نه منل کیږي او له همدې خاطره د پاسپورټ درلودل لازم دي.**

---

## زه بهر کې یم

**په فرانسه کې زما فامیل ته خپل د اړیکو معلومات** او ادرس ورکوم (تلیفون شمیره، بریښنالیک، پستي ادرس).

پام ساتم چې د ویزې غوښتنلیک
په ټوله پروسه کې همدغه **تلیفون شمیره او بریښنالیک** فعاله وساتم.

# ۳ پړاو

## د فرانسې په سفارت کې د خپلې کورنۍ لپاره ملاقات اخلم

### زه په فرانسه کې یم

← **چیرې باید د خپلو عزیزانو لپاره ملاقات ترتیب کړم؟**

د ویزې پاڼې ته ځم **France-Visas** څو معلومه کړم، چې چیرې او څنګه ملاقات ترتیب کړم او څوک یې مسؤل دي.

**زه د سفارت د انټرنټپاڼې له لارې ملاقات ترتیبوم.**

یا هم د ویزې مرکزونو له لارې چې په فرانسوي ویزو کې ذکر شوي دي (VSF، AEG، TLS، CAPAGO، SogeBank...)

**په ځینو هیوادونو کې دا زما په کورنۍ پورې اړه لري، چې ورشي او ملاقات تعین کړي.**

سفارت یا د ویزو مرکز د ملاقات تایید کوي.

د ویزې غوښتنلیک لګښت لري. د فرانسې ویزو انټرنټپاڼه په دقت سره لولم، څو د سکام یا تیر ایستلو مخنیوی وکړم.

که چیرې یو انلاین ملاقات ترتیب کړم د ویزې له کوم مرکز څخه (VSF، AEG، CAPAGO، TLS...) ممکن یو بانکي کارت یا یوې غیر فرانسوي سیمه ییزې شمیرې ته اړتیا ولرم.

د ملاقات تر لاسه کولو لپاره د انتظار موده ځینې وختونه ممکن ډیره اوږده وي.

→

د خپلو عزیزانو لپآره د ویزې غوښتنلیک تر سپارلو وروسته زه د **رسید یوه کاپي** تر لاسه کوم، چې د سفارت یا ویزې مرکز لخوا راکول شوی (VSF، AEG، CAPAGO، TLS...).

**دغه سند کې د پروسې د پیل او د ویزې غوښتنلیک د دوسیې نمبر شامل دي.**

**په سفارت کې تر ملاقات وړاندې**، زه د ویزې غوښتنلو دوسیه په بهر کې خپلې کورنۍ ته لیږم چې پرنټ یې کړي.

**زما د نابالغو ماشومانو ملتیا باید د یوه بالغ کس لخوا وشي، چې ما په لیکلې بڼه سفارت ته د ملاقات په موخه له هغوی سره د تګ لپاره تعیین کړی وي.**

---

## زه په بهر کې یم

**له یاده نه باسم چې باید پیسې راسره ولرم، څو هلته د ویزې د دوسیې فیس تادیه کړم** (۹۹ یورو معادل سیمه‌ییزې پیسې د هرې ویزې پر سر) او ممکن خدماتي فیسونه.

**زه د سفارت یا ویزې مرکز لخوا راکړل شوی** رسید راسره ساتم، کوم چې زما د دوسیې سپارلو ثبوت دی.

**زه خپله ټوله دوسه پرنټ کوم.** او زه خپل اصلي اسناد (که چیرې راسره وي) ملاقات ته د ځان سره راوړم.

← **که ملاقات کې حاضر نشم؟**
**له سفارت یا ویزې مرکز** (VFS، AEG، CAPAGO، TLS...) سره اړیکه نیسم څو هغوی ته د وضعیت په اړه معلومات ورکړم او د نوي ملاقات غوښتنه وکړم.

که په بهر کې یم، **نو ډېر پام ساتم** چې د ملاقات په پای کې **خپل پاسپورت** بیرته راسره واخلم


19 20 21
24 25 26 27 29
30 31

## 2.

# سفارت د ویزې غوښتلیک طی مراحل کوي.

د طی مراحل کولو موده کیدای شي اوږده وي.
**په اوسط ډول باید له ۲ تر ۸ میاشتو انتظار وکړم.**

# ۴ پړاو


## زه BFR فورمه ډکوم

(د کډوالو کورنيو دفتر)


### زه بهر کې يم

**زه بايد انتظار وکړم.**
لازمه نه ده، چې سفارت ته ورشم.


### زه په فرانسه کې يم




**د کډوالو کورنيو دفتر (BFR) ماته معلوماتي فورمه ليږي.** زه دغه فورمه ډکوم او د اړتيا په صورت کې له يو شخص/نهاد څخه مرسته غواړم.




**زه سمدستي دغه فورمه له ټولو غوښتل شويو سندونو سره ليږم.** که چيرې ځيني غوښتل شوي سندونه ونلرم (مثلاً: د کډوالو د سفرسند)، په همدغه خط کې BFR ته خبر ورکوم.



# ۵ پړاو

## سفارت ته انتظار کوم څو راته ځواب راکړي.




### زه بهر کې یم



**زه باید انتظار وکړم.**
لازمه نه ده، چې سفارت ته ورشم.

د خپل غوښتنلیک اړوند تازه معلومات د BFR د اړیکو فورمې ډکولو یا مستقیم سفارت ته د لیک له لارې غوښتې شم. سفارت کولی شي د پلټنو ټوله موده له ملاقات وروسته تر ۸ میاشتو وغځوي.



### زه په فرانسه کې یم

**۱ حالت**

**د پلټنو د غځونې له اطلاع پرته.**
له ملاقات دوې میاشتې وروسته او د پلټنو غځونې خبرتیا نه تر لاسه کولو په صورت کې د بیاکتنې کمیسون (CRRV) کې د ویزې ردیدو پر وړاندې د استیناف غوښتنه کوم. د استیناف غوښتنې د ثبت لپاره ۱ میاشت وخت لرم.
په دې برخه کې له اداري یا وکیل څخه مرسته غواړم.

**۲ حالت**

**د بهرنیو اسنادو د تایید لپاره د پلټنو غځونې خبرتیا – ضرب‌الاجل تر ۴ میاشتو وغځول شو (۱ ځل د تجدید وړ دی).**



3.

# سفارت یوه پریکړه کوي

**زه کیدی شي له مختلفو سیناریوګانو سره مخ شم:**
سفارت کیدی شي زما کورنۍ ته ویزه ورکړي
یا یې رد کړي.

**اړوندې پریکړې ته په کتو باید کوم اقدامات وشي؟**

# سفارت مثبت ځواب راکوي





## زه بهر کې یم


**زه سفارت ته ورځم او خپل پاسپورټ (یا پاس) او ویزه تر لاسه کوم.**

زه ۳ **میاشتې** لرم، چې فرانسې ته ولاړ شم.

**پاملرنه**

د پاس درلودلو په صورت کې، زه **یوازې ۱ میاشت** وخت لرم، چې فرانسې ته ولاړ شم.

د اړتیا په صورت کې د خروجي ویزې یا د استوګنې مودې لپاره د تادیاتو اړوند لازم اقدام کوم.



## زه په فرانسه کې یم

**له خپلې کورنۍ سره د هغوی د استوګنې له هیواده د وتلو شرایط پلټم.**

له کورنۍ سره مې په وتلو کې مرسته کوم (د الوتکې ټکټ او نور).

که نابالغ ماشومان مې یوازې سفر کوي، د سفر اجازه‌لیک ورکوم او له هوایي شرکت څخه غوښتنه کوم که د سفر پرمهال زما د کوچنیانو ملتیا کولی شي.




# سفارت ځواب رانکړی



## زه بهر کې يم

**له سفارت سره اړيکه نيسم** څو خپل د ويزې غوښتنليک اړوند تازه معلومات تر لاسه کړم.




## زه په فرانسه کې يم

**که ۸ مياشتې وروسته هم ځواب نه وي راکړل شوی**، ددې معنی دا ده چې سفارت زما غوښتنه رد کړې ده.



**له سفارت سره اړيکه نيسم** څو معلومه کړم، چې دا يو ځنډ نه دی او د رديدلو دلايل وپوښتم، ځکه په ځينو وختونو کې د انتظار موده کيدی شي تر ۸ مياشتې ډېره وي.


# سفارت منفي ځواب راکوي



## زه په فرانسه کې یم

**د CRRV د ردولو په صورت کې باید د یوه وکیل په مرسته د نانت اداري محکمې ته شکایت وکړم.** زما سرچیو ته په پام سره د حقوقي لګښتونو د پرداخت لپاره د حقوقي مرستې غوښتنه کولی شم.

**زه ۱ میاشت وخت لرم، چې CRRV ته د استیناف غوښتنه وکړم.** په دې صورت کې له یوې اتحادیې یا وکیل څخه مرسته غواړم.



**د کورنۍ د یوځای کېدو پروسه**
ممکن اوږده وي. په داړه زړه کولی
شئ د يوې اتحاديې، ستاسې
سوسيال کارمند يا کوم بل کس
لخوا همکاري تر لاسه کړئ.

که پوښتنې لرئ:

**reunifications@croix-rouge.fr**


**SERVICES ADMINISTRATIFS**
CAMPUS CROIX-ROUGE FRANÇAISE
21, rue de la Vanne CS 90070
92126 Montrouge Cedex
Tél. : 00 33 (0) 1 44 43 11 00 - www.croix-rouge.fr

**SIÈGE SOCIAL**
98, rue Didot 75694 Paris Cedex 14


CROIX-ROUGE FRANÇAISE